دا چې : (سُبْحَانَ اللهِ، وَالْحَمْدُ لِلهِ، وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَاللهُ أَكْبَرُ) ووايم؛ دا راته له هر هغه څه نه غوره دي چې لمر پرې راختلی دی

له ابو هريره -رضي الله عنه- څخه روايت دی وايي چې رسول الله -صلى الله عليه وسلم- فرمايلي: «دا چې : (سُبْحَانَ اللهِ، وَالْحَمْدُ لِلهِ، وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَاللهُ أَكْبَرُ) ووايم؛ دا راته له هر هغه څه نه غوره دي چې لمر پرې راختلی دی».

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر وركوي چې په دې سترو كلماتو سره د الله جل جلاله يادول له دنيا او څه چې پكې دي غوره دي او هغه (كلمې) دا دي: "سبحان الله": له نيمګړتياوو څخه د الله جل جلاله پاكوالى. "الحمد لله": له محبت او تعظيم سره د كمال په صفتونو د هغه ستايل. "لا إله إلا الله": له الله جل جلاله پرته بل حق معبود نشته. "الله أكبر" الله جل جلاله له هر شي لوى او ځواكمن دى.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/6211